بسم الله الرحمن الرحیم

ستره محکمه

# جریده میـــزان

د سترې محکمې کاري څرګندویه خپرونه

- - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - -

**د هستۍ نظام پر عدل ولاړ دی**

عادل خدای (جل جلاله) په سورة الرحمن کې فرمایي:
ژباړه: الله (جل جلاله) آسمان پورته کړی او تله یې اېښې ده، ترڅو تاسو په تله کې تېری ونه کړئ.
زیاتره اسلاف له دې نه دا استنباط کوي ، که په کائناتو کې د حق او عدل ساتنه ملحوظه نه وای نو د نړۍ، نړۍ والو او ټولو کائناتو دا ټول انتظام، ساتنه او انضباط سره ګډوډ کېده.

تفسیر کابلی ، ج ۲ ، ص ۱۳۰۳

- - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - - -

د تأسیس کال ۱۴۴۳ هـ ق ۱۴۰۰ هـ ش

دو شنبه ۱۰ لیندۍ ۱۴۰۴ هـ ش | ۱۰ جمادی الآخرة ۱۴۴۷ هـ ق | ۱ دسمبر ۲۰۲۵ م | مسلسله شمېره (۱۱۸)

## د سترې محکمې د محترم رئیس او قاضي‌القضات په هدایت له زندانونو څخه (۷۵۲۱) بندیان خوشي یا د بند په موده کې تخفیف ورکړل شو

د افغانستان اسلامي امارت سترې محکمې عالي مقام په هدایت د ملک له زندانونو څخه د یوه مؤظف پلاوي تر لیدنو او نظارت وروسته، (۳۲۰٤) مستحقو زندانیانو ته عفوه وشوه او (٤٣١٧) نورو ته چې د تخفیف وړ ګڼل شوي وو، د بند په موده کې تخفیف ورکړل شو.

د یادونې وړ ده چې له زندانونو څخه د لیدنې مؤظف پلاوی، د سترې محکمې عالي مقام د ۱۴۴۷/۳/۷ هـ ق نېټې په هدایت د هر ولایت د مرافعه محکمې رئیس/ جزا دیوان د رئیس په مشرۍ جوړ شوی و او د اړوند محکمې (که ښاري محکمه وي که ابتدائیه محکمه) قاضي، د قوماندانۍ، د ولایت مقام او د استخباراتو استازو یې غړیتوب درلود.

یاد پلاوي ته هدایت شوی و، چې د خپل مشخص کاري طرزالعمل په رڼا کې دې د ټول ملک له زندانونو څخه هیئتي وکړي او راپور یې دې د سترې محکمې له عالي مقام سره شریک کړي.

## د سترې محکمې محترم رئیس او قاضي‌القضات د کابل مرافعه او ښاري ابتدائیه محاکمو له مسؤولینو سره وکتل

د افغانستان اسلامي امارت سترې محکمې رئیس او قاضي‌القضات محترم شیخ عبدالحکیم (حقاني) صاحب، د سترې محکمې له اداري مرستیال، د مرکزي ریاستونو یو شمېر رئیسانو، د کابل مرافعه او ښاري ابتدائیه محاکمو له ټولو قضائي مسؤولینو او منسوبینو سره د محاکمو د چارو د بهبود او لا ښه‌والي په موخه، د پنجشنبې په ورځ (۱۴۴۷/۵/۲۹ هـ ق) نېټه اصلاحي غونډه وکړه.

په دغه اصلاحي غونډه کې چې د سترې محکمې د رئیس او قاضي‌القضات محترم شیخ صاحب په مشرۍ په کابل ښاري ابتدائیه محکمه کې جوړه شوې وه، د سترې محکمې اداري مرستیال محترم شیخ سخاءالله (سعید)، د سترې محکمې عالي مقام د دفتر عمومي رئیس محترم الحاج مولوي عبدالوکیل (حقاني)، د مالي او اداري چارو عمومي رئیس محترم الحاج مولوي کریم الله (زاهد)، د سترې محکمې د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو رئیس محترم مولوي عبدالرحیم (راشد)، د کابل مرافعه او ښاري ابتدائیه محاکمو او قضائي تفتیش عمومي ریاست ټولو قضائي مسؤولینو او منسوبینو ګډون درلود.

غونډه د قرآنکریم د مبارکو آیاتونو په تلاوت پیل شوه؛ ورپسې د سترې محکمې رئیس او قاضي‌القضات محترم شیخ عبدالحکیم (حقاني) صاحب د ناستې ګډونوالو ته د محاکمو د قضائي او اداري چارو د لا ښه‌والي او ولس ته د غوره خدماتو وړاندې کولو په موخه تفصیلي اصلاحي بیان وکړ.

محترم شیخ صاحب وویل، له فتحې مخکې ټولو مجاهدینو په ځان هر ډول ستونزې او سختۍ منلې وې، په افغانستان کې یې د اشغال د له منځه وړلو او اسلامي نظام د حاکمیت لپاره ښه په مېړانه مبارزه او جهاد وکړ؛ اوس چې ملک کې اسلامي نظام حاکم او اشغال پای ته ورسېد، دا پر موږ د الله (جل جلاله) له لوري د ډېر لوی نعمت پېرزوینه ده، د دغه نعمت شکر اداکول غواړي؛ بناءً تاسو ټولو ته مې هدایت دادی چې لکه څرنګه مو چې ادعا وه، همغسې عمل هم وکړئ.

د سترې محکمې محترم رئیس او قاضي‌القضات زیاته کړه په اسلامي نظام کې موږ او تاسو ته ډېر درونډ او مهم مسؤولیت را سپارل شوی چې دنیا او د اخرت په ورځ به یې خامخا پوښتنه راځخه کېږي؛ نو په دې برخه کې باید هېڅ ډول ناغېړي ونه کړو.

شیخ صاحب وویل، د اسلامي نظام بقاء او قیام په عدالت سره راځي، تاسو تاریخونه مطالعه کړئ، کله چې کوم ځای کې ظلم او بې عدالتي راغلې؛ نو هغه لوی نظامونه سقوط او ړنګ شوي دي، بناءً موږ او تاسو ټول به هڅه کوو چې خپل مسؤولیتونه د الهي ارشاداتو په رڼا کې ادا او عدالت تأمین کړو، همدا د الله تعالی حکم، له موږ او تاسو څخه د ولس تمه ده.

محترم شیخ عبدالحیکم (حقاني) صاحب له مراجعینو سره د چلند په اړه وویل، له ټولو مراجعینو سره ښه اخلاق او چلند کوئ، د دواړو جانبینو خبرې ښې په غور اورئ، اسناد یې مکمل ګورئ او له ټولو سره یو شان چلند کوئ، په دې سره به تاسو وکولای شئ په حق پرېکړې صادرې کړئ.

دغه راز شیخ صاحب د وخت ارزښت ته په اشاره ټولو حاضرینو ته هدایت وکړ چې د وخت مراعت کوئ، د رسمي وخت پر مهال نورې ټولې چارې ترک کړئ او په پوره معنی خپل درسپارل شوی مسؤولیت ادا کړئ؛ ځکه د محاکمو مراجعینو خپل ټول کارونه پرېښې وي، محکمې ته د خپل حق ترلاسه کولو لپاره راځي؛ نو موږ او تاسو هم باید حق حقدار ته د رسولو او خپلې وظیفې د ښه ترسره کولو لپاره ژمن وو.

د سترې محکمې رئیس او قاضي‌القضات د محاکمو قاضي صاحبانو ته هدایت وکړ چې کله له مراجعینو تحقیق کوئ له ځان سره دې مفتي او محرر هم کښېنوي، په دې سره به له یوې خوا له تهمت څخه خلاص شي او بلخوا به د محکمې ټول قضائي غړي په موضوع ښه خبر شي، مفتي به په اسانۍ سره جزئیه پیدا کوي او محرر به یې په ښه ډول ولیکلای شي.

دغه راز محترم شیخ صاحب د دیوانونو غړو ته په خطاب کې وویل، هر دیوان چې یو کار کوي نو هغه دې د زون له رئیس سره شریکوي او مشوره دې ترې اخلي، دغه راز دې د زون رئیس د دیوانونو له رئیسانو سره په همغږۍ او مشوره خپل کارونه ترسره کوي.

قاضي‌القضات شیخ صاحب د محاکمو قضائي غړو ته هدایت وکړ چې مجرمینو او متهمینو ته د تعزیري سزا په ورکولو کې ډېر احتیاط وکړي، جرم ته په کتو دې هغوی ته د تعزیري بند یا تعزیري دُرو سزا ټاکي.

په دې سربېره محترم شیخ صاحب د اطاعت پر موضوع پوره خبرې وکړې وویل، څرنګه چې امیر له خپلو ماتحت کسانو څخه د اطاعت غوښتنه کوي، باید امیر هم خپل مسؤولیت ته متوجې شي، کله چې د سترې محکمې له عالي مقام، معاونیتونو او نورو برخو څخه هدایت درته رسېدلو، تاسو یې له ماتحت کسانو سره حتما شریکوئ او که کومه شبهه مو په کې لیدله د استهداء او وضاحت لپاره یې له موږ سره بېرته شریکولای شئ.

دغه راز د سترې محکمې اداري مرستیال محترم شیخ سخاءالله (سعید) صاحب هم د ناستې ګډونوالو ته اصلاحي وینا وکړه وویل، کومې خبرې چې لازمې وې د سترې محکمې رئیس او قاضي‌القضات محترم شیخ صاحب بیان کړې، موږ او تاسو ته لازمه ده چې په یادو هدایاتو عمل وکړو.

د سترې محکمې اداري مرستیال وویل، محاکم د اسلامي نظام د زړه حیثیت لري، کله چې زړه روغ وي؛ نو ټول وجود ورسره روغ وي؛ بناءً که محاکم خپل مسؤولیت په سمه توګه ترسره کړي د ظلم مخه نیول کېږي چې له امله یې نظام بقاء او دوام پیدا کوي.

محترم شیخ سخاءالله (سعید) صاحب د محاکمو قضائي غړو ته په اشاره وویل، د مراجعینو دوسیې په خپل وخت فیصله کوئ او فیصلې مه ځنډوئ؛ تر څو مو خپل دنیوي او اخروي مسؤولیت ادا کړی وي.

ناسته د دعاء په ویلو پای ته ورسېده.



**د راشده خلافت په دوره کې قضاء:**

**هغه مهم کارونه چې د ابوبکر ﵁ د خلافت په دوره کې ترسره شوي**

**اووه لسمه برخه**

او ابو بکر ﵁ همدارنګه ابو عبیده ﵁ ته هم لیک لیکلی و، چې پکښې راغلي وو: أما بعد! بېشکه ما په شام کې له دښمن سره د جګړې مشر خالد وټاکه؛ نو مخالفت یې مه کوه، خبرو ته یې غوږ ونیسه او پیروي یې وکړه؛ ځکه چې اې زما ورور! دی مې ددې لپاره نه دی در لېږلی، چې تر تا زما په نزد غوره والی لري، مګر ما دا فکر کړی چې په دې سخت ځای کې په جګړه کې دده ځیرکتیا ډېره ده.
الله تعالی دې موږ او تاسو ته خیر پېښ کړي.

اخذلیک: تتمة النظام، ۶۱ صفحه، تألیف: قاضي القضات شیخ عبدالحکیم حقاني صاحب/ ژباړن:مولوي عبدالرحیم راشد

## د سترې محکمې محترم رئیس او قاضي‌القضات د اختصاصي محاکمو قضائي غړو ته د جوړ شوي سیمینار په پرانیست غونډه کې وینا وکړه

د سترې محکمې رئیس او قاضي‌القضات محترم شیخ عبدالحکیم (حقاني) صاحب د یکشنبې په ورځ (۲/ ۶/ ۱۴۴۷هـ ق) نېټه، د سترې محکمې د قضائي زده کړو په عمومي ریاست کې د ملک د ټولو اختصاصي محاکمو قضائي غړو ته د ظرفیت لوړونې د جوړ شوي سیمینار په پرانیست غونډه کې د اسلامي او قضائي نظام د استحکام، عدالت پلي کېدو او د تېرو خلافتونو د زوال لاملونو په اړه وینا وکړه.

محترم شیخ صاحب په خپله وینا کې د عدالت نه پلي کېدل، د مظلوم غږ نه اورېدل او د ظالم د ظلم مخه نه نیول هغه عوامل یاد کړل چې پخواني خلافتونه یې له زوال او سقوط سره مخ کړل.

دغه راز د سترې محکمې محترم رئیس او قاضي‌القضات شیخ صاحب د اسلامي امارت او افغان ولس د جهاد او قربانیو یادونه وکړه، د اسلامي نظام قیام او د اشغال خاتمې په اړه یې تفصیلي وینا وکړه، اوسنی اسلامي نظام یې د الله تعالی لوی نعمت یاد کړ او د محاکمو ټول قضائي غړي او ګډونوال یې وهڅول ترڅو د عدالت په پلي کولو کې پوره هڅه وکړي.

د غونډې په دوام د سترې محکمې اداري مرستیال محترم شیخ سخاءالله (سعید) ټولو ګډونوالو ته ښه راغلاست ووایه وویل، الحمدلله د قضاء په برخه کې ټول جید علماء کرام تاکل شوي او تاسو ټول علماء یاست، دلته له تاسو سره د قضائي چارو د لا ښه‌والي او ظرفیت لوړونې په موخه هغه مسایل او ځانګړې ستونزې شریکېږي چې راتلونکې کې تاسو ورسره مخ کېږئ.

محترم شیخ صاحب زیاته کړه، تاسو همت او حوصله وکړئ، خپلو مذاکرو او درسونو ته ښه متوجه شئ او خپل وختونه مو قېمتي کړئ.

د یادونې وړ ده چې په دغه قضائي سیمینار کې چې دوې اونۍ به دوام وکړي، د ملک د ټولو اختصاصي محاکمو (۸۸) قضائي غړو ګډون درلود.

غونډه د قضائي زده کړو د ریاست د استاد محترم شیخ صاحب جان صاحب په دعاء پای ته ورسېده.

## د سترې محکمې د امنیتي او اجرائیوي چارو ریاست اړوند مجاهدینو لپاره د معسکر د اوومې دورې افتتاحیه ناسته وشوه

د سترې محکمې د امنیتي او اجرائیوي چارو ریاست اړوند د حضرت خالد بن ولید (رضي الله عنه) د تعلیمي مرکز قوماندانۍ د نظامي زده کړو د اوومې دورې افتتاحیه ناسته، د روان ۱۴۴۷ هـ ق کال د جمادی الآخرة میاشتې په ۲مه نېټه د یاد ریاست په انګړ کې ترسره شوه.

یاده ناسته چې د قرآنکریم د څو مبارکو آیاتونو په تلاوت سره پیل شوه؛ په کې د سترې محکمې د امنیتي او اجرائیوي چارو ریاست د دفتر عمومي مدیر الحاج مولوي خان محمد (مستغفر)، د حضرت خالد بن ولید (رضي الله عنه) د تعلیمي مرکز قوماندان مولوي ابراهیم (برهان) او نورو مسؤولینو او منسوبینو ګډون درلود.

د غونډې ګډونوالو ته د یاد ریاست د دعوت او ارشاد عمومي مدیریت مدرس مولوي عبدالله جان (عابد) د اعداد د ارزښت په اړه وینا وکړه وویل، اعداد د اسلامي نظام د بقاء اصل دی، ځکه خو مؤمنان د الله تعالی له لوري د اعداد په کولو مکلف شوي او د دغه الهي امر په ترسره کولو کې الله تعالی لوی حکمتونه نغښتي دي، اعداد د مجاهدینو د فزیکي ورتیاوو د لوړولو ترڅنګ د مجاهدینو عقیدې لا راسخې او مستحکموي.

نوموړي زیاته کړه، دا چې الله تعالی افغانانو ته له ډېرو قربانیو او ستونزو زغملو وروسته دغه اسلامي نظام ور په برخه کړ، نو د دغه اسلامي نظام د بقاء او لا مستحکم کېدلو لپاره به له هرې ممکنې لارې کوښښ کوو چې اعداد او تدریب وکړو، ترڅو د نظام په وړاندې د هر کېدونکي بغاوت ملا ماته کړو او دغه اسلامي نظام ته د خدمت جوګه شو.

د یادونې وړ ده چې په یاده دوره کې به (۱۳۰) مجاهدینو ته نظامي او عقیدوي روزنه ورکړل شي.

## حکم جزای تعزیری بالای چهار مجرم در ولایت بلخ تطبیق شد

به اساس فیصلهٔ محکمهٔ ابتدائیهٔ شهری ولایت بلخ بالای چهار تن به شمول دو زن به جرم داشتن روابط نامشروع؛ به تاریخ ۲ و ۴ ماه جمادی الآخرة سال ۱۴۴۷ هـ ق حکم جزای تعزیری تطبیق شد.

محکمهٔ ابتدائیه دو مجرم را به ۲۰ـ ۲۰ دُره و دو مجرم دیگر را به ۳۹ـ ۳۹ دُره جزای تعزیری محکوم کرده بودند؛ که این فیصله بعد از تائید مقام عالی ستره محکمه تطبیق شد.

این حکم در حضور مفتی محمد ولی (حقانی) رئیس محکمهٔ ابتدائیهٔ شهری، اعضاء قضائی دواوین محکمهٔ شهری، منسوبین اداری و خدماتی، محافظین قطعهٔ امنیتی محاکم و تعداد کثیری از علماء، وکلای گذر و مراجعین تطبیق شد.

جلسه با تلاوت چند از آیات کلام الله مجید توسط مفتی ذکریا مفتی دیوان مدنی الف آغاز گردید؛ سپس رئیس محکمهٔ ابتدائیهٔ شهری در مورد تطبیق و اجرای احکام شریعت، برچیدن و محو فساد، فتنه، فسق و عمل خلاف شریعت از جامعه اسلامی و چگونگی تطبیق حکم تعزیری بالای طبقات افراد جامعه صحبت نمود و الله متعال را سپاس گزاری نمود، که الحمدلله امروز درکشور ما نظام اسلامی حاکم بوده و تمام احکام الهی مورد تطبیق قرار می‌گیرد.

جلسه بعد از تطبیق حکم جزای تعزیری با دعاء خیر به پایان رسید.

## با سعی و تلاش رئیس محکمهٔ مرافعهٔ ولایت پنجشیر یک قضیهٔ قتل حل و فصل گردید

با تلاش و سعی محترم مولوی عبدالله (سدید) رئیس عمومی محکمهٔ مرافعهٔ ولایت پنجشیر؛ روز دوشنبه مؤرخ ۱۲/ ۵/ ۱٤٤۷هـ ق، در جلسهٔ مصلحین و محاسن سفیدان قریهٔ عمرز ولسوالی حصهٔ اول آن ولایت یک قضیه قتل حل و فصل گردید.

در این جلسه رئیس محکمهٔ مرافعه، مولوی کمال الدین (حازم) رئیس محکمهٔ ابتدائیهٔ ولسوالی حصهٔ‌اول و مولوی سبحان ولسوال حصهٔ‌اول، هرکدام به ترتیب در این جلسه راجع به اهمیت و حکمت صلح از دیدگاه احکام شریعت اسلام سخنان ارزشمند ارائیه نمودند و طرفین مخاصم را به همدیگر پذیری توصیه نمودند.

سپس فیصلهٔ اصلاحی مصلحین که در روشنائی احکام شرعی انجام یافته بود، ابلاغ گردید و مورد قناعت طرفین قرار گرفت.

در اخیر طرفین دعوی اظهار سپاس و قدردانی از رئیس محکمهٔ مرافعه، رئیس و اعضای محکمهٔ ابتدائیهٔ ولسوالی حصهٔ‌اول و مصلحین نمودند.

در اخیر تمام متخاصمین همدیگر را در آغوش گرفته و به عقده های انتقام جوی خود خاتمه بخشیدند.

## محاکم ولایت بدخشان طی یک ماه علاوه بر رسیدگی به (۷۵۰) دوسیه، به تعداد (۳۲۳) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت بدخشان، دواوین مرافعه، وثایق، ابتدائیهٔ شهری و ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها از تاریخ ( ۱/ ۵/ ۱۴۴۷هـ ق الی ۳۰/ ۵/ ۱۴۴۷هـ ق) در بخش‌های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان یک ماه در محاکم ولایت بدخشان به تعداد (۶۱۰) دوسیهٔ حقوقی رسیدگی صورت گرفته‌است.

از آن جمله در رابطه به (۴۴۱) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۹۳) دوسیه فیصله شده، (۷۶) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان یک ماه در محاکم ولایت بدخشان به تعداد (۱۴۰) دوسیهٔ جزائی رسیدگی صورت گرفته‌است.

از آن جمله در رابطه به (۶۴) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۶۴) دوسیه فیصله شده، (۱۲) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان یک ماه در محاکم ولایت بدخشان به تعداد (۳۲۳) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده‌است.

## د پکتیا ولایت محاکمو په یوه میاشت کې (۵۱۵) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۲۲۱) وثیقې هم اجرا کړې دي

د پکتیا ولایت مرافعه، ښاري ابتدائیه، د پکتیا زون نظامي، اختصاصي او د ټولو ولسوالیو ابتدائیه محاکمو په یوه میاشت کې (له ۱/ ۵/ ۱۴۴۷ څخه تر ۳۰/ ۵/ ۱۴۴۷هـ ق) نېټې پورې (۵۱۵) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۲۲۱) وثیقې هم اجرا کړې دي؛ چې جزئیات یې په لاندې ډول دي.

**په حقوقي برخه کې:**

په تېره یوه میاشت کې (۲۵۵) حقوقي دوسیې محاکمو ته راجع شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۱۵۵) دوسیو په اړه قضائي قراروننه صادر شوي، (۹۸) دوسیې فیصله شوې، (۴۳) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**په جزائي برخه کې:**

په تېره یوه میاشت کې (۲۰۴) جزائي دوسیې محاکمو ته راجع شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۹۱) دوسیو په اړه قضائي قراروننه صادر شوي، (۱۲۰) دوسیې فیصله شوې، (۸) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**د وثیقو برخه کې:**

د پکتیا ولایت محاکمو په یوه میاشت کې (۲۲۱) بېلابېلې وثیقې هم اجرا کړې دي.

## محاکم ولایت غزنی طی دو هفته علاوه بر رسیدگی به (۳۴۴) دوسیه، به تعداد (۱۶۱ ) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت غزنی، دواوین مرافعه، وثایق، ابتدائیهٔ شهری، محکمهٔ نظامی زون غزنی و ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها از تاریخ (۱۶/ ۵/ ۱۴۴۷ هـ ق الی ۳۰/ ۵/ ۱۴۴۷ هـ ق) در بخش‌های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۱۹۹) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۱۲۷) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۶۱) دوسیه فیصله شده، (۲۱) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۱۰۴) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۶۲) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۶۴) دوسیه فیصله شده، (۹) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت غزنی به تعداد (۱۶۱) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده است.

## محاکم ولایت فاریاب طی دو هفته علاوه بر رسیدگی به (۵۱۵) دوسیه، به تعداد (۲۸۱) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

خلاصۀ اجراآت قضائی محاکم ولایت فاریاب، دواوین مرافعه، وثایق، ابتدائیه شهری و ابتدائیۀ ولسوالی‌ها از تاریخ (۱۶/ ۵/ ۱۴۴۷ هـ ق الی ۳۰/ ۵/ ۱۴۴۷ هـ ق) در بخش های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۱۶۲) دوسیۀ جزائی وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۸۵) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۶۳) دوسیه فیصله شده، (۹) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه های باقی ماندۀ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۲۵۳) دوسیۀ حقوقی وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۲۳۷) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۰۵) دوسیه فیصله شده، (۱۶) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه های باقی ماندۀ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت فاریاب به تعداد (۲۸۱) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده‌است.

## محاکم ولایت پروان طی دو هفته علاوه بر رسیدگی به (۲۱۰) دوسیه، به تعداد (۱۸۷) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

خلاصۀ اجراآت قضائی محاکم ولایت پروان، دواوین مرافعه، وثایق، ابتدائیۀ شهری و ابتدائیۀ ولسوالی‌ها از تاریخ (۱۷/ ۵/ ۱۴۴۷ هـ ق الی ۲۹/ ۵/ ۱۴۴۷ هـ ق) در بخش های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۱۰۶) دوسیۀ جزائی وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۵۳) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۵۴) دوسیه فیصله شده، (۵) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه های باقی ماندۀ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۱۰۵) دوسیۀ حقوقی وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۶۶) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۶) دوسیه فیصله شده، (۱۶) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه های باقی ماندۀ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت پروان به تعداد (۱۸۷) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده‌است.

## محاکم ولایت کاپیسا طی یک ماه علاوه بر رسیدگی به (۳۲۵) دوسیه، به تعداد (۱۷۶) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده است

خلاصۀ اجراآت قضائی محاکم ولایت کاپیسا، دواوین مرافعه، وثایق، ابتدائیه شهری و ابتدائیۀ ولسوالی‌ها از تاریخ (۱/ ۵/ ۱۴۴۷ هـ ق الی ۳۰/ ۵/ ۱۴۴۷ هـ ق) در بخش‌های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش جزائی:**

در جریان یک ماه به تعداد (۱۱۳) دوسیۀ جزائی وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۵۳) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۵۷) دوسیه فیصله شده، (۱۱) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندۀ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش حقوقی:**

در جریان یک ماه به تعداد (۱۵۸) دوسیۀ حقوقی وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۱۶۱) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۲۷) دوسیه فیصله شده، (۱۶) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندۀ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان یک ماه در محاکم ولایت کاپیسا به تعداد (۱۷۶) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده است.

## محاکم ولایت غور طی دو هفته علاوه بر رسیدگی به (۳۵۵) دوسیه، به تعداد (۱۷۰) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

خلاصۀ اجراآت قضائی محاکم ولایت غور، دواوین مرافعه، وثایق، ابتدائیۀ شهری، نظامی زون غور و ابتدائیۀ ولسوالی‌ها از تاریخ (۱۵/ ۵/ ۱۴۴۷هـ ق الی ۳۰/ ۵/ ۱۴۴۷هـ ق) در بخش‌های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۳۰۹) دوسیۀ حقوقی وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۲۰۷) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۴۷) دوسیه فیصله شده، (۵) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندۀ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۶۸) دوسیه جزائی وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۵۱) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۴۰) دوسیه فیصله شده، (۵) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندۀ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت غور به تعداد (۱۷۰) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده‌است.

## د خوست ولایت محاکمو په یوه میاشت کې (۵۸۸) دوسیو ته رسېدنه کړې او (۳۰۷) وثیقې یې هم اجرا کړې دي

د خوست ولایت مرافعه، ښاري ابتدائیه، اختصاصي او د ټولو ولسوالیو ابتدائیه محاکمو په یوه میاشت کې (له۱/ ۵/ ۱۴۴۷هـ ق څخه تر ۳۰/ ۵/ ۱۴۴۷هـ ق نېټې) پورې (۵۸۰) دوسیو ته رسېدنه کړې او (۳۰۷) وثیقې یې هم اجرا کړې دي؛ چې جزئیات یې په لاندې ډول دي.

**په حقوقي برخه کې:**

په حقوقي برخه کې د (۱۷۴) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۹۳) دوسیې فیصله شوې، (۲۲) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**په جزائي برخه کې:**

په جزائي برخه کې د (۷۰) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۲۲۷) دوسیې فیصله شوې، (۲) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**د وثیقو برخه کې:**

د خوست ولایت محاکمو په یوه میاشت کې (۳۰۷) بلابېلې وثیقې هم اجرا کړې دي.

## محاکم ولایت کندز طی یک ماه علاوه بر رسیدگی به (۸۵۶) دوسیه، به تعداد (۳۶۷) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

خلاصۀ اجراآت قضائی محاکم ولایت کندز، دواوین مرافعه، وثایق، ابتدائیه شهری و ابتدائیۀ ولسوالی‌ها از تاریخ ( ۱/ ۵/ ۱۴۴۷ هـ ق الی ۳۰/ ۵/ ۱۴۴۷هـ ق) در بخش‌های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان یک ماه به تعداد (۵۹۵) دوسیۀ حقوقی وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۳۷۰) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۴۸) دوسیه فیصله شده، (۲۶) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندۀ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان یک ماه به تعداد (۳۶۷) دوسیۀ جزائی وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۱۴۵) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۵۴) دوسیه فیصله شده، (۱۳) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندۀ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان یک ماه در محاکم ولایت کندز به تعداد (۳۶۷) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده‌است.

## د میدان وردګ ولایت محاکمو په یوه میاشت کې (۲۱۹) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۲۰۹) وثیقې هم اجرا کړې دي

د میدان وردګ ولایت مرافعه، ښاري ابتدائیه او د ټولو ولسوالیو ابتدائیه محاکمو په یوه میاشت کې (له ۱/ ۵/ ۱۴۴۷هـ ق څخه تر ۳۰/ ۵/ ۱۴۴۷هـ ق) نېټې پورې (۲۱۹) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۲۰۹) وثیقې هم اجرا کړې دي؛ چې جزئیات یې په لاندې ډول دي.

**په حقوقي برخه کې:**

په تېره یوه میاشت کې (۱۲۴) حقوقي دوسیې محاکمو ته راجع شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۹۴) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۲۲) دوسیې فیصله شوې، (۱۲) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**په جزائي برخه کې:**

په تېره یوه میاشت کې (۷۷) جزائي دوسیې محاکمو ته راجع شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۵۹) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۲۹) دوسیې فیصله شوې، (۳) مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**د وثیقو برخه کې:**

د میدان وردګ ولایت محاکمو په یوه میاشت کې (۲۰۹) بلابېلې وثیقې هم اجرا کړې دي.

## دکندهار ولایت ښاري ابتدائیه محکمې په یوه میاشت کې (۴۲۹) دوسیو ته رسېدنه کړې ده

د کندهار ولایت ښاري ابتدائیه محکمې په یوه میاشت کې له ( ۱/ ۵/ ۱۴۴۷ هـ ق څخه تر (۱/ ۶/ ۱۴۴۷ هـ ق) نېټې پورې په حقوقي او جزائي برخو کې (۴۲۹) دوسیو ته رسېدنه کړې ده؛ چې جزئیات یې په لاندې ډول دي:

**په حقوقي برخه کې:**

د کندهار ولایت ښاري ابتدائیه محکمې په یوه میاشت کې (۱۶۵) حقوقي دوسیو ته رسېدنه کړې ده.

له دې جملې څخه د (۲۶) دوسیو په تړاو قضائي قرارونه صادر شوي او (۱۳۹) دوسیې فیصله شوې دي.

**په جزائي برخه کې:**

د کندهار ولایت ښاري ابتدائیه محکمې په یوه میاشت کې (۲۶۴) جزائي دوسیو ته رسېدنه کړې ده.

له دې جملې څخه د (۹۹) دوسیو په تړاو قضائي قرارونه صادر شوي او (۱۶۵) دوسیې فیصله شوې دي.

مسؤول مدیر: مولوي عبدالرحیم (راشد)
اډیټور : جوادالله (جاهد)
ډیزاین: حمیدالله (راسخ)

لا إله إلا الله محمد رسول الله

د افغانستان اسلامي امارت د ستري محکمې دغه څرګندویه خپرونه
په میاشت کې درې ځله چاپیږي

## د کابل ولایت د نشه‌يي توکو او مسکراتو څخه د مخنیوي ابتدائیه محکمې لخوا (۱۵) مجرمینو ته تعزیري سزا ورکړل شوه

د کابل ولایت د نشه‌يي توکو او مسکراتو څخه د مخنیوي ابتدائیه محکمې د پرېکړې له مخې (۱۵) تنه د نشه‌يي تابلیتو (ذیکپ او تابلیت کا)، الکولي مشروباتو، پوډرو، شیشې او چرسو د خرڅلاو او قاچاق په جرمونو، د پنجشنبې په ورځ ۶/ ۶/ ۱۴۴۷ هـ ق نېټه تعزیري سزا ورکړل شوه.

ابتدائیه محکمې یاد مجرمین له اوو میاشتو څخه تر دریو کالو او شپږو میاشتو پر تنفیذي بند او له ۱۰ څخه تر ۳۹ دُرو پر تعزیري سزا محکوم کړي وو؛ چې یادې پرېکړه د ستري محکمې عالي مقام له تائید وروسته پر یادو مجرمینو تطبیق شوه.

## په پکتیا ولایت کې یوې مجرمې ته تعزیري سزا ورکړل شوه

د پکتیا ولایت زرمت ولسوالۍ ابتدائیه محکمې د پرېکړې له مخې یوې ښځې ته د اخلاقي فساد په جرم؛ د چهارشنبې په ورځ (۲۸/ ۵/ ۱۴۴۷ هـ ق) نېټه تعزیري سزا ورکړل شوه.

ابتدائیه محکمې یاده مجرمه پر یو کال تنفیذي بند او ۳۹ دُرو تعزیري سزا محکومه کړې وه؛ چې دغه پرېکړه د ستري محکمې عالي مقام له تائید وروسته پر یادې مجرمې تطبیق شوه.

د ابتدائیه محکمې دغه حکم د یادې ابتدائیه محکمې په انګړ کې د ولسوال، امنیه قوماندان، استخباراتو مدیر، علماوو شورا رئیس، امربالمعروف آمر، قومي مشرانو، مسؤولینو او مجاهدینو په حضور کې تطبیق شو.

## حکم جزای تعزیری بالای دو متهم در ولایت کاپیسا تطبیق شد

به اساس فیصلهٔ محکمهٔ ابتدائیهٔ ولسوالی کوهبند ولایت کاپیسا بالای دو تن که متهم بر سرقت بودند؛ به تاریخ ۲۷/ ۵/ ۱۴۴۷ هـ ق حکم جزای تعزیری تطبیق شد.

محکمهٔ ابتدائیهٔ متهمین را به دو- دو سال حبس تنفیذی و ۳۹- ۳۹ دُره جزای تعزیری محکوم کرده بودند؛ که این فیصله بعد از تائید مقام عالی ستره محکمه تطبیق شد.

حکم جزای تعزیری در حضور محترم مولوی عزیز الرحمن (حقانی) رئیس محکمهٔ مرافعه، مولوی عبدالحق (مظهری) عضو قضائی دیوان امنیت عامهٔ محکمهٔ شهری، قاری زیور (زاهد) ولسوال، قاری شاکرالله (عادل) قوماندان امنیه، عبدالغفار (منصور) مدیر استخبارات، مولوی عبدالرحیم مدیر محتسبین و سایر کارمندان امارتی و مردم عام تطبیق گردید.

در این جلسه رئیس محکمهٔ مرافعه در مورد تطبیق حکم و اجرای احکام شریعت، محو فساد، فتنه، فسق و عمل خلاف شریعت از جامعهٔ اسلامی صحبت نمود و الله متعال را سپاس گزاری نمود، که الحمدلله امروز در کشور ما نظام اسلامی حاکم بوده و احکام شرعی تطبیق میگردد.

جلسه با دعاء خیر به پایان رسید.


## په ننګرهار ولایت کې دوو متهمینو ته تعزیري سزا ورکړل شوه


د ننګرهار ولایت د سپین‌زر ولسوالۍ ابتدائیه محکمې د پرېکړې له مخې دووکسانو ته چې په (قطاع الطریقی) متهم وو؛ د یکشنبې په ورځ (۲/ ۶/ ۱۴۴۷ هـ ق) نېټه تعزیري سزا ورکړل شوه.


ابتدائیه محکمې یاد کسان پر دوه- دوه کاله او شپږو- شپږو میاشتو تنفیذي بند او ۳۹- ۳۹ دُرو تعزیري سزا محکوم کړي وو؛ چې یاده پرېکړه د ستري محکمې عالي مقام له تائید وروسته پر متهمینو تطبیق شوه.


په دې موخه جوړه شوې غونډه کې د یادې ابتدائیه محکمې رئیس، قضائي غړو او اداري کارکوونکو، ولسوال، امنیه قوماندان، د استخباراتو مدیر، د امر بالمعروف، نهی عن المنکر او شکایتونو د اورېدو کارکوونکو او عام ولس ګډون درلود.


غونډه د قرآنکریم د څو مبارکو آیاتونو په تلاوت پیل شوه؛ وروسته د یادې ابتدائیه محکمې رئیس مولوي سید محمود (الهاشمي) وینا وکړه وویل، الحمدلله په افغانستان کې اسلامي او شرعي نظام قائم دی او د ټولو افغانانو هیلې همدې نظام پورې تړلې دي، هر هغه څوک چې د شریعت خلاف کړنې ترسره کوي، هغوی ته به د شریعت مطابق سزا ورکول کېږي او د نظام بقاء د اسلامي احکامو په تطبیق کې ده.





میزان

د لیکوال پلاوي تر څارنې لاندې

پته : ستره محکمه، د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست

publications.sc١٤٤٣@gmail.com

www.supremecourt.gov.af

د ټلیفون شمېرې: ۰۲۰۲۳۰۰۳۶۱
۰۲۰۲۳۰۲۲۶۳